UNAMA

د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره

د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی اعلاميه

http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی دی ميستورا د ولسی جرګې نوماندانو سره وکتل**

**د جون ۲۸، ۲۰۱۱، کابل:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازی ستفان دې ميستورا نن ورځ د څو تنو د ولسي جرګې د نوماندو استازو سره د دوی په غوښتنه وکتل، چې د هغه محکمې له خوا چې د ټاکنو د شکايتونه د غور لپاره رامنځ ته شوې وه، حمايه شوي دي. دوي هغه قضيې وړاندې کړې چې د دوی له نظره د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر د مياشتې په ټاکنو کې د ښکاره درغلۍ بيلګې وي او په دې يې ټينګار وکړ چې د قانون واکمني بايد تامين شي.

د ټاکنو نهايی پايلو ته په اشارې سره چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا تاييد شوې او د امنيت شورا د کال ۲۰۱۰ د ډسمبر مياشتې په ۲۲ نېټې په بيانيه کې د هغو هرکلی کړي، ځانګړی استازي ويل چې ملګرو ملتونه د ټاکنو څخه د ديموکراتيکي پروسې د يوې برخې په څير ملاتړ کوي او د انفرادي قضيو په حل کولو کې شامل نه دي. په دې ډول ملګري ملتونه په افغانستان کې د اساسي قانون له خوا جوړ شوې موسسې تقويه کوي چې په هغو کې د ټاکنو لپاره نهادونه او د هغوي صلاحيتونه د اساسی قانون پر بنسټ په ټاکنيزو مسايلو کی شامل دي.

يوناما د جنورۍ د ۲۵ نېټې وينا يادوې چې د قضاييه قوې حق تاييدوي چې کولای شي ځانګړی انفرادي جنايي قضيې د افغانستان د موجوده او نافذ قانون سره سم بې له دې چې د قانوني مراحلو حق او هغو معافيتونو ته ته زيان ورسيږي چې د اساسي قانون د موادو له خوا تضمين شوي، تعقيب کړي.

ستفان دې ميستورا خپله پخوانۍ وينا چې د پارلمان غړو ته يی اورولی وه تکرار کړه چې په ټولو خواوو يې غږ کړی و چې مسوولانه چلند غوره کړي، يوازې سياسي وسيلې وکاروي او هر ډول اقدام تر سره کړي چې د عامه بی نظمی څخه مخ نيوی وشي.

ده په پای کې وويل: "په افغانستان کې د ديموکراتيکي حکومتدارۍ لپاره په دې حساس وخت کې، د افغانانو لپاره ضروري ده چې پخپله دې نهادی پيچيلتيا ته سياسی حل لاره پيدا کړي چې د اساسي قانون او ديموکراتيکو اصولو له خوا يې ملاتړ کيږي او پرمخ ولاړ شي."

---


**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**